**سوله؛ د تلپاتې اقتصادي پرمختګ لامل کيږي**

سوله په هېواد کې د تلپاتې اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره لاره هواروي او د یوې ښې راتلونکې او روښانه سباوون د لارې لار نقشې رامنځته کوي.

که څه هم په تېرو څو لسیزو کې په هېواد کې روانو جګړو د بانکدارۍ، سوداګرۍ، ترانسپورت، کرنې او نورو زیاتو اقتصادي برخو ته درانه زیانونه اړولي دي، خو اوس تمه ده چې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ د سولې د خبرو بریالیتوب به په هېواد کې د دوامدارې اقتصادي ودې او پرمختګ لپاره لار هواره کړي او هېوادوال به مو له سوکالۍ برخمن کړي.

په هېواد کې به د تلپاتې او پتمنې سولې راتګ د سترو ټولګټو اقتصادي پروژو د پلي کېدو لپاره لاره هواره کړي او په ټوله کې به د اقتصادي ودې او خلکو ته د دندو د پیدا کېدو لامل شي او نورې زیاتې ګټې به هم له ځان سره ولري.

سوله هغه ستر الهي نعمت دی چې په برکت سره یې انسان د ژوند پر هدف پوهیږي او د ارمتیا ساه اخلي، نو پر همدې بنسټ په اسلام کې هم سوله له یوه ځانګړي ارزښت څخه برخمنه ده او پرې ټینګار شوی دی.